## پوهنتون علمي لقبونه

لیکوال: پوهنمل مظلوم یار

د پوهنتون علمي لقبونو او صفتونو پیژندنه د برحاله او فارغ شویو محصلینو لپاره ډېره اړینه ده په همدې موخه درته لاندې مهم اصطلاحات او لقبونه در پیژندل کیږي.

**د لیسانس دوره:** د لیسانس دورې ته BA یا BS ویل کیږي. BA د Bachelor of Art او BS د Bachelor of Science مخفف دی.

BA د ټولنیزو علومو محصلینو لپاره او BS د اینجینري یا طبیعي علومو محصلینو لپاره کارول کیږي.

**د ماسټري دوره**: د ماسټرۍ دورې فارغو محصلینو ته MA یا MS ویل کیږي چې MA د Master of Art او MS د Master of Science مخفف دی.

د MA د ماسټرۍ دورې د ټولنیزو علومو برحاله یا فارغو محصلینو لپاره او MS د ماسټرۍ دورې د اینجینري یا طبیعي علومو برحاله یا فارغو محصلینو ته کارول کیږي.

**د دوکتوار محصل**: هغه محصلین چې د دوکتورا زده کړو لپاره منل کیږي هغوی ته د PhD student ویل کیږي.

**د دوکتورا کاندید:** هغه محصلین چې د دوکتورا لپاره نوماند وي هغوی ته PhD candidate ویل کیږي.

PhD : د هغه کس لپاره چې د دوکتورا سند ولري، کاریږي چې PhD د Doctor of Philosophy مخفف دی.

**له دوکتورا وروسته زده کړې:** د دوکتورا زده کړو څخه وروسته لنډې زده کړې ته Postdoctoral ویل کیږي چې معمولا څېړنیزه جنبه لري چې دې دورې ته په لنډه توګه Postdoc هم ویل کیږي.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د طبي زده کړو محصل: Intern:** د طبي زده کړو هغه محصل ته چې په روغتون کې د طبي زده کړو په موخه بوخت وي.

MD: د MD اصطلاح عمومي طبي زده کړو لپاره کیږي چې د Doctor of Medicine مخفف دی.

**رزیډنټ :** رزیډنټ هغه طبي زده کړو محصل ته کاریږي چې په تخصص باندې مصروف وي دغې دورې ته residency ویل کیږي.

**د علمي کادر غړي**: د علمي کادر غړي ته Faculty member او یا Academic Staff ویل کیږي.

د علمي کادر غړو رتبې له Instructor یا Lecturer څخه شروع کیږي چې په نورو هېوادونو کې اکثر څلور رتبې لکه: Assistant Professor ، Associate Professor، Professor او Academic Tenure لري.

په افغانستان کې بیا

**الف: د استاد مرستیال (اسیسټانټ)**

١. پوهنیار(Teaching Assistant )
٢. پوهنمل(Senior Teaching Assistant )

**ب: استاد**

١. پوهندوی(Assistant Professor )
٢. پوهنوال( Associate Professor )
٣. پوهاند( Professor )

**افیلیشن ( Affiliation ):** په یوې موسسې یا ادارې پورې تړلو ته وایې. مثلا کله چې یو څیړونکی مقاله لیږي نو د خپلې ادارې په اړه هم معلومات وړاندې کوي لکه: د څانګې نوم، د پوهنځي نوم، د پوهنتون نوم، ښار او هېواد

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**